د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**ګڼه: 476**

(01 - 06 جوزا 1404 هـ ش)

## د افغانستان د اسلامي امارت په اړه د اروپايي ټولنې بهرنۍ پالیسي

---



دا نشریه د افغانستان او سیمې د مهمو سیاسي، امنیتي، اقتصادي او ټولنیزو پېښو د تحلیل اوونیزه خپرونه ده چې د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز له لوري په پښتو، دري، انګلیسي او عربي ژبو چمتو کېږي او خپرېږي.

# په دې ګڼه کې لولئ:


- د افغانستان د اسلامي امارت په اړه د اروپايي ټولنې بهرنۍ پالیسي ........................................ 3
- د افغانستان سره د اروپايي ټولنې د اړیکو تاریخ ........................................................... 3
- د جمهوریت سقوط او د اروپايي ټولنې غبرګون ........................................................... 4
- د اروپايي ټولنې په بهرني سیاست کې د افغانستان ځای ............................................. 5
- د اسلامي امارت په اړه د اروپايي ټولنې پالیسي ........................................................ 6
- د اړیکو راتلونکی او ممکنه سناریوګانې ....................................................................... 7
- پایله ..................................................................................................................... 8
- وړاندیزونه ............................................................................................................. 9
- سرچینې ................................................................................................................ 9


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## د افغانستان د اسلامي امارت په اړه د اروپايي ټولنې بهرنۍ پاليسي

### سريزه

له ۲۰۰۱ څخه تر ۲۰۲۱ ز. کال پورې د افغانستان سره د اروپايي ټولنې اړيکې د پراختيا پر بنسټ او امنيتي پاليسيو په چوکاټ کې د پېچلو نړيوالو تعاملاتو يوه روښانه بېلګه وه. دې اتحاديه د ميلياردونو يورو مالي مرستې په تخصيص کولو او د نړيوالو کنفرانسونو له لارې لکه د توکيو (۲۰۰۲) او برلين (۲۰۰۴) کنفرانسونو په څېر، په افغانستان کې د حکومتي جوړښتونو د بيارغونې، د ديموکراتيکو ادارو د پياوړتيا او د مخدره توکو د قاچاق سره د مبارزې يو له اصلي ملاتړو څخه شو. د ناټو په چوکاټ کې د اروپايي غړو هېوادونو پوځي شتون هم د افغانستان لپاره د اروپا ځو اړخيزه ژمنه څرګنده کړه. خو دا ملګرتياوې تل کابل کې د اداري فساد او د حکومت ضد ډلو د مقاومت په څېر ننګونو سره مل وې، چې د پروګرامونو اغېزمنتوب يې محدود کړی و. له ۲۰۲۱ ز.کال وروسته، اروپايي ټولنې، مشروط چلند غوره کړ، خپلې مرستې يې په بشري ملاتړ باندې متمرکزې کړې ترڅو د تېرو دوو لسيزو لاسته راوړنې په ځانګړې توګه د بشري حقونو په برخه کې وساتي، که څه هم دا ستراتيژي د نړيوالو معيارونو په منلو کې د اسلامي امارت د انعطاف سره مخ شوه.

د وروستيو پېښو تحليل ښيي چې د اسلامي امارت په اړه د اروپايي ټولنې بهرنۍ پاليسي د بشري حقونو او جيوپوليتيک واقعيتونو (کډوالۍ، تروريزم او چين او روسيې سره سيالي) ترمنځ ويشل شوې ده. له يوې خوا، "د رسميت پيژندې پرته ښکيلتيا پاليسي" د بشردوستانه چينلونو او نړيوالو سازمانونو له لارې تعقيب کيږي، چې د 2021-2023 په اوږدو کې د 903 ميليون يورو بېړنۍ مرستو تخصيص يې مثال دي. له بلې خوا، د غړو هېوادونو ترمنځ په دريځونو کې شته اختلافات د يوې متحدې پاليسۍ د جوړولو مخه نيولې ده. دا تضادونه، د سيمه ييزو پرمختګونو په شرايطو کې د سيالو لوبغاړو د زياتيدونکي نفوذ او د افغانستان د اقتصادي بحران زياتوالی د دې اړيکو راتلونکی ناڅرګند کړی دی.

### د افغانستان سره د اروپايي ټولنې د اړيکو تاريخ

بې له شکه، له ۲۰۰۱ څخه تر ۲۰۲۱ ز.کال پورې د افغانستان سره د اروپايي ټولنې اړيکې په سيمه کې يو له خورا مهمو نړيوالو تعاملاتو څخه وې. د سپټمبر د يوولسمې وروسته، اروپايي ټولنه د افغانستان لپاره د يو له لويو بسپنه ورکوونکو په توګه راڅرګنده شوه او د توکيو کنفرانس (۲۰۰۲) او برلين کنفرانس (۲۰۰۴) په څېر نړيوالو کنفرانسونو کې يې د ددې هېواد د بيارغونې لپاره د پام وړ مالي ژمنې وکړې.[1] دې اتحاديې د افغانستان د حکومتي ادارو په پراختيا، قضايي اصلاحاتو، د سرحدونو مديريت، د مخدره توکو پر وړاندې مبارزه او اقتصادي بيارغونې کې مهم رول لوبولی دی. همدارنګه د ناټو په چوکاټ کې اروپايي هېوادونو پوځي شتون درلود او د دوي په اند، نړيواله سوله يې ساتلې وه.[2] د جمهوريت په وروستيو کلونو کې، اروپايي ټولنې


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

له افغانستان سره خپلې ژمنې نوې کړې او په دې هېواد کې یې د سولې او ثبات راوستلو لپاره د خپلو هڅو ملاتړ وکړ. دې اتحادیې ټینګار کړی و چې د دوی مالي او سیاسي مرستې به د دیموکراتیکو لاسته راوړنو، بشري حقونو د ساتنې او د اسلامي امارت د بیرته راستنېدو مخنیوي پورې مشروط وي. اروپايي ټولنې هم د افغانانو ترمنځ د خبرو اترو د پروسې او د یو ټول شموله حکومت د جوړولو ملاتړ وکړ او د دایمي اوربند غوښتنه یې وکړه.

د جمهوریت له نسکورېدو وروسته، دا هم لیدل کیږي چې د اروپايي ټولنې استازو د بشري حقونو د مسلو سربیره، د اسلامي امارت سره د اړیکو د عادي کولو لپاره هڅې کړې دي. په ۲۰۲۳ کال کې، اروپايي کمیسیون د افغانستان لپاره د ۱۴۶ میلیون یورو نوې مرستې بسته اعلان کړه، چې پکې د روغتیا، تعلیم او خوراکي خوندیتوب په څېر اساسي خدماتو چمتو کول شامل وو. دا مرستې د ښځو او نجونو د حقونو په ملاتړ باندې متمرکزې وې، او یوه برخه یې د ملګرو ملتونو پراختیايي پروګرامونو ته ځانګړې شوې وه. اروپايي ټولنې له ۲۰۲۱ ز.کال راهیسې په افغانستان کې د اساسي اړتیاوو او اقتصاد د پوره کولو لپاره له ۹۰۳ میلیون یورو څخه ډېرې مرستې ځانګړې کړې دي.[3] له دې مرستو سره سره ، د اروپايي ټولنې او افغانستان په اړیکو کې ننګونې شتون لري. اروپايي ټولنې د اسلامي امارت د رسمیت پېژندنې څخه هم ډډه کړې او په افغان حکومت کې یې د پراخو اصلاحاتو غوښتنه کړې ده. په ورته وخت کې، ځینې اروپايي هېوادونه د اوسنۍ افغان حکومت سره د تعامل لپاره لارې چارې لټوي، دا چې د اسلامي امارت سیاسي استازي په ځینو اروپايي هېوادونو لکه هسپانیه، هالنډ، چک جمهوریت، بلغاریه او د جرمني په مونیخ کې د افغانستان قونسلګرۍ فعاله ده.[4] په داسې حال کې چې نور د ډیپلوماتیک فشار پر اړتیا ټینګار کوي. دا وضعیت د افغانستان سره د اروپايي ټولنې د اړیکو پیچلتیا او د دې تعاملاتو نامعلوم راتلونکی منعکس کوي.

## د جمهوریت سقوط او د اروپايي ټولنې غبرګون

د ۲۰۲۱ ز.کال د اګست پر ۱۵مه په افغانستان کې د جمهوریت له نسکورېدو، کابل ته د اسلامي امارت د ځواکونو له ننوتلو او له هېواده د اشرف غني له تېښتې سره، جمهوري نظام، چې د دوو لسیزو راهیسې د نړیوالې ټولنې لخوا ملاتړ کېده، ناڅاپه ړنګ شو. دې تحول په مختلفو بعدونو کې ګډوډۍ رامنځته کړه او ډېری افغانان، په ځانګړې توګه هغه کسان چې د پخواني حکومت سره یې همکاري کړې وه، د خپل راتلونکي په اړه اندېښنو سره مخ شول. د سقوط څخه وروسته په لومړیو ورځو کې، د لویدیځ هېوادونو سفارتونه زر خالي شول او په زرګونو افغانانو په چټکۍ سره هڅه وکړه چې د کابل د هوايي ډګر له لارې له هېواده ووځي.[5] دا وضعیت د دې سبب شو چې نړیواله ټولنه، له ډلې یې اروپايي ټولنه سمدستي غبرګون وښايي.

اروپايي ټولنې د جمهوریت د سقوط په اړه په خپل لومړني غبرګون کې، د بشري حقونو د وضعیت، په ځانګړې توګه د ښځو او نجونو د حقونو په اړه خپله ژوره اندېښنه څرګنده کړه. د اروپايي ټولنې د بهرنۍ پالیسۍ مشر



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

جوزپ بورل اعلان وکړ چې ټولنه یې په افغانستان کې د بشري ناورین د مخنیوي لپاره له مختلفو خواوو سره همکارۍ ته چمتو ده. اروپايي ټولنې په دوامداره توګه ټینګار وکړ چې د اسلامي امارت سره هر ډول اړیکې به د بشري حقونو د درناوي او د یو ټول شموله حکومت د جوړولو پورې مشروطې وي. د تحول وروسته په لومړیو ورځو کې، په بروکسل کې بیړنۍ غونډې وشوې ترڅو پریکړه وشي څنګه افغانانو ته مرستې چمتو شي. اتحادیې دا هم اعلان وکړ چې خپلې بشري مرستې به زیاتې کړي، خو د نوي افغان حکومت په رسمیت پیژندل یې د دیموکراتیکو اصولو په رعایت پورې مشروط کړل.[6]

د ډیپلوماتیکو غبرګونونو ترڅنګ، اروپايي ټولنې هڅه وکړه چې د نړیوالو سازمانونو سره د همکارۍ له لارې افغانستان ته بشري مرستې واستوي. اتحادیې د افغانستان د خلکو د ملاتړ لپاره نوي مالي کڅوړې ځانګړې کړې او ټینګار یې وکړ چې دا مرستې به مستقیم ډول بشري ادارو ته لیږدول کیږي، نه د اسلامي امارت حکومت ته. همدارنګه اروپايي ټولنې له خپلو غړو هېوادونو وغوښتل چې د افغان کډوالو په منلو کې همکاري وکړي. ځینو اروپايي هېوادونو، لکه جرمني او فرانسې، د هغو افغانانو د منلو پلانونه اعلان کړل چې ځانونه یې په خطر کې ګڼل، خو د اروپايي هېوادونو ترمنځ د کډوالۍ څپې او امنیتي ننګونو په اړه اندیښنې لا هم پاتې دي. د وخت په تېریدو، اروپايي ټولنې د افغانستان په اړه خپلې پالیسۍ تعدیل کړې او هڅه یې وکړه چې اسلامي امارت د بشري حقونو درناوی او د ډیپلوماتیک فشار له لارې یو ټول شموله حکومت جوړولو ته وهڅوي، خو د اسلامي امارت لخوا د اروپايي ټولنې د شرایطو نه منل د دواړو خواوو ترمنځ اړیکې نورې هم پیچلې کړې. اروپايي ټولنه په دوامداره توګه ټینګار کوي چې راتلونکي تعاملات به د اسلامي امارت په کورنیو پالیسیو کې د بنسټیزو بدلونونو سره مشروط وي.[7] دا وضعیت د جمهوریت له ړنګېدو وروسته د اروپايي اتحادیې او افغانستان په اړیکو کې ژورې ننګونې منعکسوي.

## د اروپايي ټولنې په بهرني سیاست کې د افغانستان ځای

افغانستان په تېرو وختونو په ځانګړې توګه د سپتمبر د یوولسمې له بریدونو وروسته د اروپايي ټولنې په بهرني سیاست کې مهم ځای درلود، خو د اسلامي امارت له واک ته رسېدو وروسته، اروپايي ټولنې، د څو میاشتو په اوږدو کې په کابل کې د خپل سفارت د بیا پرانیستلو سربیره، له نږدې څلورو کلونو راهیسې د افغانستان په اړه محتاطانه پالیسي غوره کړې او ټینګار یې کړی چې له نوي حکومت سره هر ډول تعامل به د بشري حقونو، په ځانګړې توګه د ښځو او نجونو د حقونو د درناوي او د یو ټول شموله حکومت د جوړولو سره مشروط وي. دې اتحادیې د نړیوالو سازمانونو له لارې افغانانو ته بشري مرستې رسولو ته دوام ورکړ او ځینې اروپايي هېوادونو، لکه جرمني او فرانسې، د اسلامي امارت په وړاندې سختې پالیسۍ غوره کړې، پداسې حال کې چې نورو یې د اوسني افغان حکومت سره په محدود ډول د اړیکو د ټینګولو لارې چارې لټولې. د نظرونو دا توپیرونه د دې لامل شوي چې د افغانستان په اړه د اروپايي ټولنې پالیسي دوامداره بدلون ومومي او بیاکتنه وشي.[8]


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د افغانستان په اړه د اروپايي ټولنې يوه له اصلي اندېښنو څخه د مهاجرت او سيمه ييز امنيت مسله ده. اروپايي ټولنه په وروستيو کلونو کې له افغانستان څخه د کډوالۍ له څپو سره مخ شوې او هڅه يې کړې چې د افغانستان له ګاونډيو هېوادونو سره د همکارۍ له لارې دا بحران اداره کړي. همدارنګه دغه اتحاديه په سيمه کې د چين او روسيې د مخ په زياتېدونکي نفوذ په اړه هم اندېښمنه ده او هڅه کوي چې په مرکزي آسيا کې د ډيپلوماسۍ او اقتصادي همکارۍ له لارې خپل رول وساتي، خو د اسلامي امارت لخوا د اروپايي ټولنې د شرايطو نه منلو د دواړو خواوو ترمنځ اړيکې نورې هم پېچلې کړې دي او له افغانستان سره د اروپايي ټولنې د تعاملاتو راتلونکې ناڅرګند پاتې دی.[9]

په ټوليزه توګه، دا ويل کېدی شي چې افغانستان د اروپايي ټولنې د بهرنۍ سياست يوه برخه پاتې ده، که څه هم د جمهوريت له ړنګېدو وروسته يې رول کم شوی، خو په بشپړه توګه له منځه نه دی تللی. اروپا په افغانستان کې د سيمه ييز ثبات د ساتلو، د سيمه ييزې ترهګرۍ د ګواښونو او د ډله ييزې کډوالۍ د مخنيوي په څېر دلايلو لپاره په عملياتي توګه ښکيل پاتې کېږي. دا ښکېلتيا په عمومي توګه د بشري مرستو، په بهر کې د مدني ټولنې ملاتړ او محدودو ډيپلوماتيکو مشورو په بڼه ترسره کېږي.

## د اسلامي امارت په اړه د اروپايي ټولنې پاليسي

اروپايي ټولنې د اسلامي امارت په وړاندې د احتياط او مشروطې پاليسۍ د غوره کولو سربېره، ټينګار کړی چې د نوي افغان حکومت سره به اړيکې يوازې هغه وخت ممکنې وي چې اسلامي امارت خپلو نړيوالو مکلفيتونو ته غاړه کېږدي، له هغې ډلې د بشري حقونو، په ځانګړې توګه د ښځو او نجونو حقونو ته درناوی او د يو ټول شموله حکومت جوړول. همدارنګه اروپايي ټولنې دا اعلان هم کړی چې خپلې بشري مرستې به جاري ساتي، خو دا مرستې به په مستقيم ډول د افغانستان خلکو او بشري سازمانونو ته ليږدول کېږي، نه د اسلامي امارت حکومت ته. [10]

د جمهوريت له سقوط څو مياشتې وروسته، اروپايي ټولنې هڅه وکړه چې له ډيپلوماتيک فشار څخه کار واخلي ترڅو اسلامي امارت د اصلاحاتو منلو ته اړ کړي. د افغانستان لپاره د اروپايي ټولنې ځانګړي استازي، توماس نيکولسن، د اسلامي امارت له چارواکو او د نړيوالې ټولنې له استازو سره په ګڼو غونډو کې د يو ټول شموله حکومت د جوړولو پر اړتيا ټينګار کړی دی.[11] خو اسلامي امارت تر اوسه د اروپايي ټولنې د حکومتي جوړښت کې د بنسټيزو بدلونونو غوښتنو ته مثبت ځواب نه دی ويلی. دې وضعيت اروپايي اتحاديه دې ته اړ کړې چې د اسلامي امارت د حکومت په رسميت پيژندلو څخه انکار وکړي او خپل تعاملات يې په بشري مسلو او بيړنيو مرستو پورې محدود کړي.[12]

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د اسلامي امارت په وړاندې د اروپايي ټولنې د پاليسۍ يوه له اصلي ننګونو څخه دا ده چې څنګه له دې حکومت سره د مشروعيت پرته تعامل وکړي. دې اتحاديې هڅه کړې چې د نړيوالو سازمانونو سره د همکارۍ له لارې د افغانستان خلکو ته بشري مرستې ورسوي، خو د اسلامي امارت په اړه د اروپايي هېوادونو ترمنځ د نظرونو توپير لا هم دوام لري. دغو اختلافاتو د دې لامل شوی چې د اسلامي امارت په اړه د اروپايي ټولنې پاليسي تل بدلون ومومی او بيا کتنه پرې وشي.[13]

په عمومي توګه، د اسلامي امارت په وړاندې د اروپايي ټولنې پاليسي د "محدود مشروط ښکيلتيا" په نوم پېژندل شوې چلند پر بنسټ ولاړه ده چې د غير مستقيم فشار سره يوځای کېږي؛ دا پاليسي ممکن د اروپا ته د بې کنټروله مهاجرت مخنيوي، د افغانستان په بدلونونو کې د لږترلږه نفوذ ساتلو، يا په نهايت کې د بشري ناورين مخنيوي ادعا کولو لپاره وي. له همدې امله، اروپا د اسلامي امارت سره په خبرو اترو ټينګار کوي، خو دا د سياسي پېژندنې بديل نه ګڼي. په مقابل کې، اسلامي امارت هم هڅه کړې چې د ډيپلوماتيکو او اقتصادي وسايلو په کارولو سره له اروپايي هېوادونو سره خپل تعامل زيات کړي. په دې هڅو کې د ۲۰۲۱ کال د نومبر په مياشت کې د دوحې خبرې اترې، د ۲۰۲۲ کال د جنوري په مياشت کې د اوسلو په غونډه کې د اسلامي امارت د استازو شتون او سږ کال په اوسلو کې د ناروې لخوا د افغانستان د قونسلګرۍ بيا پرانيستل او نجيب الله شيرخان په هرکلي سره او همدارنګه د اقتصادي فرصتونو د څېړلو لپاره د اروپايي شرکتونو له استازو سره ليدنې شاملې دي. خو اروپايي ټولنې په رسمي ډول د اسلامي امارت په رسميت پېژندل رد کړي او تل يې ټينګار کړی چې د افغانستان له حکومت سره هر ډول تعامل بايد د بشري حقونو د اصولو او د يو ټول شموله حکومت د جوړولو پر بنسټ وي.

## د اړيکو راتلونکی او ممکنه سناريوګانې

د افغانستان د اسلامي امارت سره د اروپايي ټولنې د اړيکو راتلونکی ناڅرګند او پيچلې پاتې دی، ځکه چې اروپايي ټولنه د محتاط پاليسۍ په غوره کولو سره، د بشري حقونو د درناوي په شرط په تعامل ټينګار کوي. له بلې خوا، اسلامي امارت تر اوسه د اروپايي ټولنې د حکومتي جوړښت غوښتنو ته مثبت ځواب نه دی ورکړی، چې له امله يې د دواړو خواوو ترمنځ اړيکې د ناڅرګندتيا په حالت کې پاتې دي. اروپايي ټولنه د اسلامي امارت د حکومت په رسميت نه پېژندلو ته دوام ورکوي او خپل تعاملات يې تر بشري مسلو او بيړنيو مرستو پورې محدود کړي دي. له بلې خوا ځينې شنونکي په دې باور دي چې اروپايي ټولنې په خپلو پاليسيو کې يو ډول انعطاف ښودلی چې ممکن په راتلونکې کې اسلامي امارت ته ګټه ورسوي.[14]

**لومړی سناريو:** د اسلامي امارت سره د اروپايي ټولنې د اړيکو د راتلونکي لپاره يوه ممکنه سناريو د اوسنې وضعيت دوام دی چې پکې اروپايي ټولنه د نړيوالو سازمانونو له لارې د افغانستان خلکو ته بشري مرستې رسوي، خو د اسلامي امارت له حکومت سره له رسمي اړيکو ډډه کوي. دا سناريو به اروپايي ټولنې ته اجازه



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

ورکړي چې له خپل سیاسي نفوذ څخه کار واخلي ترڅو پر اسلامي امارت فشار راوړي چې بشري حقونو ته درناوی وکړي او یو ټول شموله حکومت جوړ کړي، خو په ورته وخت کې، دا ممکن د دې هم لامل شي چې اسلامي امارت د چین او روسیې په څېر نورو هېوادونو سره خپلې اړیکې پیاوړې کړي. دا وضعیت کولی شي په سیمه کې د اروپایي ټولنې په بهرني سیاست اغیزه وکړي او د افغانستان په تحولونو کې د اتحادیې رول کم کړي.[15]

**دوهمه سناریو:** بله سناریو کېدای شي د اروپایي ټولنې لخوا له اسلامي امارت سره محدود او مشروط تعامل ولري. په دې حالت کې، اروپايي ټولنه ممکن د افغانستان له حکومت سره ځینې اقتصادي او ډیپلوماتیکې همکارۍ پیل کړي، خو بیا هم د بشري حقونو درناوی او د یو ټول شموله حکومت په جوړولو ټینګار وکړي. دا تګلاره کولی شي اروپایي ټولنې ته اجازه ورکړي چې په افغانستان کې ډیر نفوذ ولري او د خبرو اترو له لارې اسلامي امارت دې ته وهڅوي چې خپلې غوښتنې ومني، خو دا سناریو به له ننګونو سره مل وي، ځکه چې اسلامي امارت تر اوسه د اروپایي ټولنې د شرایطو منلو ته هیڅ لیوالتیا نه ده ښودلې. په دې حالت کې، د اروپایي ټولنې د دې چلند بریالیتوب لاهم روښانه نه دی.[16]

**دریمه سناریو:** په پای کې، دریمه سناریو کېدای شي د اروپايي ټولنې په پالیسۍ کې بدلون او د سیاسي واقعیت په توګه د اسلامي امارت حکومت منل شامل وي. په دې صورت کې، اروپایي ټولنه ممکن له اسلامي امارت سره خپلې ډیپلوماتیکې اړیکې عادي کړي او په اقتصادي او امنیتي برخو کې پراخه همکاري وغواړي. په دې حالت کې، اروپایي ټولنه ممکن د افغانستان په پرمختګونو کې د رول لوبولو لپاره ډیر فرصتونه ولري، مګر په ورته وخت کې، دا ممکن د اروپایي ټولنې د غړو هېوادونو ترمنځ داخلي شخړې رامنځته کړي. ځکه چې ځینې اروپایي هېوادونه، لکه فرانسه، جرمني، بلجیم، سویس، او نور، چې د اسلامي امارت استازیتوب یې نه دی منلی، ممکن د دې چلند مخالفت وکړي او په اسلامي امارت باندې د ډیپلوماتیک فشار اړتیا باندې ټینګار وکړي.

## پایله

د افغانستان د اسلامي امارت سره د اروپایي ټولنې د اړیکو تحلیل ښیي چې د اروپا د ارزښتونو اصولو او د افغانستان په وړاندې د هغې د جیوپولیټیک مکلفیتونو ترمنځ ژور واټن شتون لري. په ۲۰۲۱ ز.کال کې د اسلامي امارت له واک ته رسېدو وروسته، بروکسل هڅه کړې چې له یوې خوا د بشري بحران سره د مقابلې لپاره غیر سیاسي بشري مرستې چمتو کړي او له بلې خوا د نوي حکومت د مشروعیت څخه مخنیوی وکړي. په هرصورت، د امارت ټینګار په ځینو کورنیو پالیسیو، لکه د ښځو په تعلیم او کارموندنې محدودیتونه او د یو ټول شموله حکومت په جوړولو کې پاتې راتلل، د اړیکو د پراختیا امکان په مؤثره توګه بند کړی دی. له بلې



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

خوا، د چين او روسيې په څېر غیر لوېديځو لوبغاړو سره د کابل تدریجي نږدې والی ممکن امنيتي اندېښنې رامنځته کړي او په سيمه کې د اتحاديې د نفوذ دریځ کمزوری کړي.

په داسې پيچلي او ننګونکي حالت کې، داسې ښکاري چې په اړيکو کې د پراخوالي رامنځته کول محتاط انعطاف ته اړتيا لري. په دې شرايطو کې، اسلامي امارت کولی شي د نړيوالې ټولنې د ځينو غوښتنو په ځانګړې توګه هغه غوښتنې چې د اسلامي شريعت سره په ټکر کې نه وي او د ديني ارزښتونو لپاره ګواښ نه ګڼل کيږي، په منلو سره د انزوا څخه د وتلو او رسمي ښکيلتيا ترلاسه کولو لپاره لاره هواره کړي، په پای کې، دا اقدام کولی شي د اقتصادي پرمختګ لپاره فرصتونه برابر کړي او نړيوال فشارونه کم کړي.

## وړانديزونه

۱. اسلامي امارت باید د نړيوالې ټولنې د ځينو غوښتنو په منلو سره، په ځانګړې توګه هغه غوښتنې چې د اسلامي شريعت سره په ټکر کې نه وي، د انزوا څخه د راوتلو او د رسميت پيژندې ترلاسه کولو لپاره زمينه برابره کړي.

۲. د اړيکو د ښه کولو لپاره، اړينه ده چې د اروپايي اتحاديې له ډيپلوماتانو سره منظمې غونډې د بهرنۍ پاليسی د لومړيتوبونو په سر کې ځای پر ځای شي.

۳. اسلامي امارت ته اړينه ده چې په اروپا کې د افغانستان د مثبت انځور وړاندې کولو لپاره منظم رسنيز پروګرامونه ترسره کړي.

## سرچيني

[1]. مرکز بین المللی مطالعات صلح، اتحادیه اروپا و افغانستان: اقدامات و چالش‌ها، 20 میزان 1391، لینک:
https://peace-ipsc.org/fa/اتحادیه-اروپا-و-افغانستان-اقدامات-و-چا/

[2]. موسسه مطالعات راهبردی شرق: بررسی رویکرد اتحادیه اروپا در قبال افغانستان، 13 اسد 1401، لینک:
https://www.iess.ir/fa/translate/3177/

[3]. مؤسسه مطالعات راهبردی شرق: واکاوی نقایص راهبردی اروپا، 21 جدی 1400ش، لینک:
https://www.iess.ir/fa/translate/2933/

[4]. آوا: فعالیت پنج نمایندگی سیاسی افغانستان در اروپا با هماهنگی وزارت خارجه امارت اسلامی، 16 اسد 1403ش، لینک:
https://www.avapress.com/fa/news/294812/فعالیت-پنج-نمایندگی-سیاسی-افغانستان-اروپا-هماهنگی-وزارت-خارجه-امارت-اسلامی

[5]. طلوع نیوز: زوال جمهوریت و ظهور امارت، 23 اسد 1401ش، لینک:
https://tolonews.com/fa/afghanistan-179397

[6]. euro news: تبعات خروج امریکا ومتحدانش از افغانستان برای قدرت های اروپایی چه خواهد بود؟ 16 می 2021، لینک:

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

https://parsi.euronews.com/2021/05/16/security-worsens-afghanistan-what-does-nato-withdrawal-mean-for-european-powers-eu

[7]. DW: گزارش تازه از عوامل سقوط نظام جمهوریت افغانستان، 3 اسد 1402ش، لینک:

https://www.dw.com/fa-af/گزارش-تازه-از-عوامل-سقوط-نظام-جمهوریت-افغانستان/a-66336455

[8]. موسسه مطالعات راهبردی شرق: اتحادیه اروپا و حکومت طالبان، 19 جدی 1400، لینک:

https://www.iess.ir/fa/analysis/2932/

[9]. مرکز بین المللی مطالعات صلح: اتحادیه اروپا و افغانستان: اقدامات و چالش ها، 20 میزان 1991، لینک:

https://peace-ipsc.org/fa/اتحادیه-اروپا-و-افغانستان-اقدامات-و-چا/

[10]. پورتال جامعه مدنی افغانستان: خلاصه پالیسی-فعالیت و حضور اتحادیه اروپا در افغانستان بعد از سال 2021م، 1 April 2021، لینک:

https://ibrahimi.aicsafg.org/depository/خلاصه-پالیسی-فعالیت-و-حضور-اتحادیه-ارو/

[11]. آریا نیوز: فرستاده خاص اتحادیه اروپا برای افغانستان از تلاش هایش برای ایجاد حکومت همه شمول و تعامل با امارت اسلامی خبر داد، 20 جدی 1402ش، لینک:

https://www.ariananews.af/fa/فرستاده-خاص-اتحادیه-اروپا-برای-افغانس/

[12]. طلوع نیوز: موقف اتحادیه اروپا در برابر حکومت کنونی افغانستان، 22 ثور 1401ش، لینک:

https://tolonews.com/fa/afghanistan-177979

[13]. پورتال جامعه مدنی افغانستان: خلاصه پالیسی-فعالیت و حضور اتحادیه اروپا در افغانستان بعد از سال 2021م، 1 April 2021، لینک:

https://ibrahimi.aicsafg.org/depository/خلاصه-پالیسی-فعالیت-و-حضور-اتحادیه-ارو/

[14]. موسسه مطالعات راهبردی شرق: اتحادیه اروپا و حکومت طالبان، 19 جدی 1400، لینک:

https://www.iess.ir/fa/analysis/2932/

[15]. موسسه مطالعات راهبردی شرق: آینده پژوهی افغانستان، 25 حمل 1401، لینک:

https://www.iess.ir/fa/translate/3048/

[16]. مرکز بین المللی مطالعات صلح: اتحادیه اروپا و افغانستان ...20 میزان 1391، لینک:

https://peace-ipsc.org/fa/اتحادیه-اروپا-و-افغانستان-اقدامات-و-چا/

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز نادولتي، غیر انتفاعي او خپلواک ارګان دی، چې په ۱۳۸۸ لمریز کال کې په کابل کې جوړ شوی. دغه مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو له لارې، په افغانستان او سیمه کې د پالیسیو د ارزونې او بډاینې لپاره فعالیت کوي.

**اړیکه:**

ایمیل: info@csrsaf.org

وب سایت: www.csrsaf.org

شمېره: +93780618000

+93780618000